مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباري جهانی

۲۰۲۳/۰۱/۱۹

# رباعیات

د جنوري پر اووه لسمه د طالبانو اداري څو تنو ته په عام محضر کي د سزا ورکولو او لاسونو د غوڅولو اعلان کړی وو. زه خبر سوم چي په زرهاوو کسان یي تماشي ته وروتلي ول او حتی ماشومان یي هم ورسره بېولي ول او تقریباً د خوښی د یوه لوی جشن صحنه جوړه سوې وه. د هغو کسانو په زړونو، چي د تل لپاره د جسمي فعالیت څخه لوېدل او نور به پرته له ګدايي کولو څخه به بله لاره ورته پاته نه وي، یو الله خبر وو. خو جاهل اولس، فقط لکه د فیلم تماشي ته چي وتلي وي، په بشپړه بي تفاوتي د دې غم لړلي صحنې ننداره کوله. ګواکي« هغسي غر هغسي کربوړی» « لېونو ته لېونی پاچا ښاییږي»

چي اولسونه ځانته بلا سي
نو یي په برخه چړي پاچا سي
د چا غوڅیږي پښي او لاسونه
دوی تماشي ته ورلره راسي
******

لاس په دعا سی وطنداړانو
ګوندي قبول سي خواست د خوارانو
وطن به هلته سور او زرغون سي
که خدای فارغ کړاست له مُلایانو
******

یو څه به پند وي یو څه عبرت دی
په دې وطن کي دا څه قیامت دی
یو وژل کیږي بل یي په سیل ځي
خدای مو ړانده که دا جهالت دی
******

ما اورېدلی قحط الرجال دی
چي اولسونو لره زوال دی
مدرسي خلاصي پوهنتون بند دی
مُلا خپور کړی د جهل جال دی
******

چي بي نصیبه څوک له کتاب دی
خدای یي په برخه کښلی عذاب دی
چي ورور دي وژني ته ورته خاندي
جاهل اولسه کور دي خراب دی.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنی د لیکنیزي بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ